محمد عارف رسولي ۲۰۱۸/۰۸/۲۰

# د خپلواکۍ په تکمیل او تلپاتې کېدو کې
# د ملي مشروع دولت رول

## لومړۍ برخه

د دې مقالې د منځپانګه او موخه د ملتونو په پرمختګ او د استقلال په بشپړېدو کې د دولت د رول او اهمیت ارزونه ده. د مسئلې د سم تشریح لپاره یو څو پوښتني کوو او د ځوابونو هڅه کوو. لکه ولې ځیني ملتونه خوار، وروسته پاتي، تر ښکېلاک لاندې او نورو ته احتیاج دي؟ ولې نور بیا ستر واک او ځواک، قوي اقتصاد، بریالی تعلیمي نظام، بشپړه او تلپاتې خپلواکي لري؟ د قوي او مشروع دولت په رامنځته کې کېدو کې کومې ښکارندې مهم رول لري؟ ایا یوازې جنګیالیتوب یو ملت پوره خپلواک کولای شي؟ ایا بې له مشروع دولت څخه یو ملت خپلواکي، سوکالي او پرمختګ ساتلی شي؟

### قوي او مشروع دولت ته اړتیا:

ټول نړیوال کارپوهان په یوه خوله دي چې د پورته سوالونو ځواب یو دی او هغه داچې هغه ملتونه چې د مشروع قوي او ملي دولت د جوړولو په هنر پوهیږي د واک او ځواک خاوندان او په رښتیا خپلواک دي.
ځکه ملت بې د دولت او حکومت له تشکیل څخه پاشل کیږي، د قانون د حاکمیت تشه رامنځته کیږي او داتشه زورواکان، مفسدین او ځان غوښتونکي ډکوي. ملي سیاسي او اقتصادي پرانیستي بنسټونه نه رامنځته کیږي او شته شړیږي.
پوهان وایي: د خپلواکۍ ګټلو لپار سربښندني، د ساتلو لپاره یې قلم او کتاب په کار وي خو د یوه هېواد د خپلواکۍ د کچې ټاکل د هغو له کلتور له مخې کیږي. په دې معنی که یو ملت د خپلواکۍ د ګټلو لپاره هرڅومره سربښندني وکړي خو چې علم، پوهه، ښه اقتصاد، ښه حکومتولي او د قانون حاکمیت او نور و نه لري خپله خپلواکي نه شي ساتلی، کلتور یې وده نشي کولای او خپلواکي یې بیا له خطر سره مخ کیږي. د دې ښکارندو د تکمیل لپاره مشروع او قوي دولت اړین دی او یو یې هم بې له مشروع دولت څخه نه شي ترلاسه کېدای.

### مثبت بدلون او قوي مشروع دولت جوړول قانونمنده پروسه:

بیا هم له ابن خلدون څخه رانیولې تر اګوست کونت، نور کارپوهان او د تاریخ فلسفه ټول راښیي چې:

۱ــ د مثبتو بدلونونو لړۍ پیلول، د قوي ملي نظام جوړول، پرمختګ کول او خپلواک پاته کېدل تصادفي نه بلکه په ټولو ملتونو کې د یو لړ قانونمندو لاملونو، ښکارندو، او کړنو تابع وي.

۲ــ که کوم ملت هغه شرایط په ځان کې پیدا کړل هوسا، خپلواک او پرمختللی به وي او که نه نو بېوزله، نورو ته احتیاج او په پای کې به ذلیل او غلام کیږي.

۳ــ نو اړتیا ده په هغو لاملونو ، ښکارندو او کړنو ځان خبر کړو او ورڅخه ګټه واخلو تر څو هوسا، خپلواک او باعزته پاته شو.

### د مشروع قوي دولت په جوړولو کې د دین او وطندوستۍ د دوو محورونو بنسټیز رول:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

علامه ابن خلدون په خپل مشهور اثر مقدمه کي وايي: د ځواکمن او مشروع دولت جوړولو، تلپاتي هوسايني او بشپړې سياسي او اقتصادي خپلواکی لپاره يو ملت بايد به دوو لاندې مهمو محوروںو تکيه وکړي:

a. دين او

b. عصبيت يا د ګډې انګيزې رامنځته کوونکی فکر، چي نن پوهان ورته (وطندوستي) وايي، محوروںو باندي تکيه وکړي.

دا دواړه محوره ځکه مهم او يو د بل لازم او ملزوم دي چي دواړو ته د ټولني ټول او يا زيات شمېر خلک د خپل فطرت له مخې ورسره تړاو لري او هر يو د ټولنيز تړون ستر لاملونه دي. خو داسي بايد وکارول شي چي يو بل تخريب نه بلکه تقويه کړي. دا مرسته کوي چي ملت او دولت يې ديني او ملي شعاير دواړه يو ځای په سم ترکيب سره بي له افراط او تفريط څخه وکاروي. ټولو ځواکمنو ملتونو او دولتونو يې دا محوروںه په سم ترکيب کارولي نوځکه تلپاتي سياسي، مشروع او ځواکمن نظامونه يې جوړ کړی، استقلال يې بشپړ او تلپاتي شوي دي.

داسي کوم ملک نشته چي ښېله دې ښکارندو دې پوره واک او ځواک او بشپړه خپلواکي ولري. خو کله چي کوم ملت دا دواړه او يا يو يې هير کړي دي، مات شوي، ناکام دولتونه لري، که هرڅومره جنګيالی ملت وي او ډېرې سرښندنې وکړي خپلواکي يې نيمګړې، نظام يې کمزوری، نورو ته احتياج او وروسته پاته خلک لري. افغانستان، سوماليا او نيپال د دې ښه مثالونه دي، جنګيالي خلک لري، ډېر کم يا هيڅ نه دي مستعمره شوي، زياتي سرښندنې يې کړې، خو دا دوه محوره يې په ښه ترکيب نه دي کارولي، نو ماتېدونکی حالت او نظامونه لري. موږ افغانانو کله دين ته شا کړې، کله مو پکي افراط کړی او وطندوستي خو مو په اجندا کي بيخي نشته.

ګورو ترکان اوس دا دواړه محوره چي دين او عصبيت ( د ترکانو په منځ کي د ګډې انګېزې رامنځته کول) دواړه د خپل ملک او دولت په ګټه سم کاروي. همدارنګه، امريکايان، جرمنان، انګريزان، روسان، فرانسويان دا کار په زيات مهارت کوي.

## د پرانيستو قوي سياسي او اقتصادي بنسټونو (نهادونو) رول د واک او ځواک لرونکي دولت په رامنځته کېدو کي:

د قوي دولتونو د جوړښت لپاره بخوا نور معيارونه لکه کلتور، اقليم، طبيعي منابع او نور مهم بلل کېدل خو د سياست او اقتصاد دوو وتلو څېړونکو او د هاروارډ او ماساچوسيټ پوهنتونونو استادانو هريوه آسموغلو او رابنسن د ديارلسو کلونو علمي څېړنو په اوږدو کي هغه زړې فرضيې غلطې ثابتې کړې. دوی و موندل چې، د قوي او مشروع دولت په جوړښت کي د پرانيستو او قوي ملي بنسټونو/نهادونو يا ، ((Institutions رول پرېکنده او ټاکونکی دی. د څېړنو په پای کي دوی ملتونه ولې ماتېږي په نامه کتاب وليکه. دوی وموندل د واک او ځواک بنسټيز لاملونه د همدې نهادونو پرانيستی توب او قوت دي. دوي ښوولي که په يوه ملت کي سياسي او اقتصادي بنسټونه شړيدلي او کمزوري وي دولت يې ناکام او ماتېدونکی وي، خپلواکي يې تل تر سوال لاندې او ناتکميله وي او نورو ته محتاج وي. همدارنګه، دوی د بنسټونو د پرانيستيتوب اړتيا ته هم ګوته نيسي او وايي که نهادونه لکه قوانين او مقررات زېږېنونکي وي نو په ملت کي د پانګوني، نوښت او پرمختګ خوځښت نه وي او له فقر او بحرانونو سره مخ کېږي.

## بنسټ (نهاد):

- بنسټ (نهاد) يا(Institution) له رولونو، پاليسيو، قوانينو، رواجونو، ارزښتونو او کړنو څخه عبارت دي چي ټاکلي څنګه ټولني فعاليت وکړي.
- بنسټونه رسمي جوړښتونه دي کوم چي ټاکي سياست څنګه کار کوي. معمول مثالونه يې اساسي قوانين، حقوقي سيستمونه، د قانون جوړولو ارګانونه، سياسي ګوندونه، او نور دي. هر منل شوی قانون، رواج، او نور بنسټ يا نهاد دی. هر آشنا او له پخوا منل شوی شخصيت (ميرويس نيکه، احمد شاه بابا)، شی، يا فعاليت، هم په بنسټ بدل شوی وي.

- د بنسټ ريښتيانی معنی د يوه پوهنتون له تاسيساتو، پکي کارکوونکو خلکو، يا ستر ديني مرکزه، خورا ژوره ده.
- اصلي معنی يې په هغو ارزښتونو او رويښ کي نغښتي ده چي په دې بنسټونو کي راټوکيدلي او زموږ عادت کنټرولوي

## په نظام کي د بدلون صلاحيت او ميکانزم ته اړتيا ده:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولئ

د ټولنيز او سياسي بدلون په هکله ابن خلدون چي د اجتماعي علومو او د تاريخ د فلفسي پلار بلل کېږي، وايي: ټولنيز او سياسي مثبت بدلونونه تصادفي نه بلکه د قانونمندو ښکارندو تابع دي. د پښتو مشهور متل دی: *چي کری هغه به ریبي*، کوم کس، ټولنه او ملت يوازي او يوازي د خپلو کړو هڅو او علمي کړنو ميوه تر لاسه کولای شي.
تاريخ پوهان او څېړونکي وايي يو دولت هغه وخت دوام کولای شي چي په ځان کي د بدلون راوړلو صلاحيت او ميکانيزم ولري او که داسي نه وي په کراره کراره له کاره لوېږي او له منځه ځي. تاريخ شاهد دی چي سترو امپراطوريو زيات وختونه تر دريو نسلونو پوري خپل اغيزمنتوب ساتلي او بيا ورستي، له کاره لوېدلي او له سقوط سره مخ شوي او د احمد شاه بابا د ستره امپراتوري چي تر تيمورشاه او شاه زمان وروسته د مختلفو لاملونو له کبله له زوال سره مخ شوه. همدارنګه، په ايران کي د قاجار او صفويانو امپراتوری، په هند کي د لوديانو، سوري کورنی او د مغولو د امپراطوريو زوال يي ښه مثالونه دي، د دوی د سقوط لاملونه به يو څه توپير سره لري خو مهم علت يي دادی پخوانيو امپراتوريو او دولتونو په ځآن کي د بدلون او نوښت ميکانيزم نه درلود. همدارنګه، کله چي اسلامي خلافت په ملوکيت واوښت او د امويانو، عباسيانو او عثماني ترکانو د امپراتوريو هم همدا حال شو.
نو ټولټاکني، په قانون کي تغير، د خلکو مشارکت او نور ميکانيزمونه يي رامنځته کړل. ګورو په امريکا کي د همدې اړتيا له مخي چي کله خلک له دولت او پاليسيو څخه ستړي شي نو په ټاکنو کي داسي کس ته رايه ورکوي چي بدلون غواړي، لکه د جورج بوش په دور کي چي امريکايان د هغه له تندروه او يرغليزو پاليسيو ستړي شوي وو، نو تورپوستي اوباما ته چي نړی ليد او شعار يي د قانون حاکميت او نوري نړی سره همغږي وو رايه ورکړه. همدارنګه، د اوباما له اته کلني دوري وروسته يي يوه تاجر ته رايه او قدرت ورکړل.

## بدلون په ديني متونو کي:

بدلون ته اړتيا په ديني متونو کي مهم ځای لري. الله تعالی په قران پاک کي فرمايي: په تحقيق سره د هغو قومونو او ملتونو په حالت کي بدلون نه راولي چي هغوی پخپلو نفسونو او اعمالو کي بدلون نه راولي. يو مسلمان عالم وايي: متحجرين نويو مسلو ته په زړو عينکو ګوري، جاهلان هر نوی څيز پرمختګ بولي او يوازي کم هوښيار کسان يي د عقل او پوهي په تله ارزوي، مثبت ټکي ورنه اخلي او منفي يي ردوي.

د لمړۍ برخي پای

د يوه پوره خپلواک او هوسا افغانستان په هيله



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ